TULSA PUBLIC SCHOOLS

د تولسا دولتي ښوونځيو د ولسواليو د ښوونځي پلاوي د اصولو په ملاتړ کې. (د خدماتي اداري نوم) به د اومې درجې زده کوونکي مثبت مخنيوي پلس نصاب وړاندې کړي. دا ۱۲-مجموعې، د شواهدو پر بنسټ جوړ پروګرام، زده کوونکو ته پوهه، باور او مهارتونه برابروي، کوم چې د دوی د جنسي اړيکې له لارې د لېږدېدو وړ ناروغيو (STIs)، د انساني ايمني نقصان وايرس (HIV) او په تنکي عمر کې د اميدوارۍ ګواښ کموي. دا نصاب په سم ډول د متحده اياالاتو د روغتيا وزارت او بشري خدماتو له خوا کتل شوی دی. له طبي اړخه ټول درسونه دقيق، له عمر سره مناسب او د ټولو زده کوونکو نغاړونکي دي. دا نصاب به د (د خدماتو وړاندې کونکې اداري نوم) د روزل شويو روزونکو له خوا تدريس شي.

مثبت مخنيوي پلس منځنی ښوونځی لاندې معلوماتو ته پوښښ ورکوي:

- د نويو ځوانانو وده او پرمختګ
- د راتلونکو طرحو لپاره د موخو ټاکل
- اناتومي، د جنسيت پېژندنه او ښودنه او جنسي تمايل
- پرهيز، هغه يواځينی ټاکلي لارې چې د له خوښې پرته اميدوارۍ او STI لکه د HIV ايډز، مخه نيسي
- سيمه ييزې سرچينې لکه د تولسا روغتيايي ډيپارټمنټ، د ټولنې روغتيايي اړيکه، او د سيمې نور روغتيايي مرکزونه کوم چې توليدي روغتيايي پاملرنه وړاندې کوي
- د بې خوښې اميدوارۍ او د HIV په خبر د STI د خطر کمول او پېژندنه
- د HIV او ايډز په اړه ټولنيز نظريات او پر HIV د اخته کېدو ناسم نظريات
- HIV او نور STI څه ډول لېږدول کېږي، د HIV او STI د مخنيوي منل شوې لارې، لکه پرهېز کول او کانډوم
- HIV او نور STI څه ډول درملنه کېږي
- اميدواري څنګه کېږي، د مخنيوي د لارو چارو په ګډون
- صحي اړيکې او د غېر صحي چلند او حالاتو څخه ځان ساتنه

د مثبت مخنيوي پلس موخه! د ځوانانو د داسې انتخاب لپاره وړ ګرځول دي، کوم چې بې خوښې اميدواري، يا په HIV او نورو STI اخته کېدل کم کړي.

د زده کوونکو ګډون رضاکارانه او محرم دی. په دې اړه چې ايا زده کوونکی د مثبت مخنيوي پلس! منځني ښوونځي په نصاب کې ګډون کوي که نه، دا د دوی د والدينو يا سرپرستانو انتخاب دی. که چېرې دوی نه غواړي چې په دې پروګرام کې برخه واخلي، ستاسې د زده کوونکو د درس درجې ته به زيان ونه رسېږي. ته کولای شي هر وخت له دې پروګرام څخه خپل ماشوم لرې کړي.

د دې پروګرام د اغېزو د ارزولو او د نفوس پېژندنې د معلوماتو راټولولو لپاره به د زده کوونکو سروې وشي. په دې سروې کې ګډون رضاکارانه او محرم دی. د پروګرام د ارزونې سروې په بې نوم ډول تر سره کېږي. د سروې له راټولو شويوځوابونو څخه ټول راپورونه به په خلاصه کې وي. په راپورونو کې به د پروګرام ګډونوال معلوم نه شي.

ښوونځی به د والدينو د کتنې د يوې شپې کوربه وي، چېرته به چې تاسې د مثبت مخنيوي پلس! نصاب، د نصاب يوه ټولګتنه تر لاسه کړئ. دا به په (د ښوونځي نوم) کې، په (تاريخ) تر سره شي.

که نه شي کولای چې حاضر شې، ته کولای شي د دې ويبپاڼې. [https://amplifytulsa.org/adults/tps-sex-ed/](https://amplifytulsa.org/adults/tps-sex-ed/) په کتنې سره نور معلومات تر لاسه کړې.
که نورې پوښتنې لرې مهرباني وکړئ اړيکه ونيسئ:

د محل تنظيمونکی:
د تلفون شمېره:
برېښنا ليک:

که نه غواړې چې ماشوم دې په پروګرام يا سروې کې ګډون وکړي، نو مهرباني وکړئ لاندې يوه خانه په نښه کړئ، لاسليک يې کړئ او فورمه بېرته وسپارئ.

---

☐زما زده کوونکی................................ (د زده کوونکي نوم)، نه شي کولای د پروګرام په سروې کې ګډون وکړي، خو کولای شي په پروګرام کې برخه واخلي.

☐زما ماشوم.................(د زده کونکي نوم)، نه شي کولای په پروګرام کې برخه واخلي.

والدين/سرپرست لاسليک ______________________ نېټه ______________________

مثبت مخنوی پلس: د منځني ښوونځي د نصاب کتنه

د مثبت مخنیوي پلس ("P3") منځني ښوونځي نصاب د لوړ معیار، د شواهدو پر بنسټ د جنسي روغتیا تعلیمي نصاب دی. په ۲۰۱۶ کې د خپرې شوې دې ته ورته کتنې موندنو د جنسي فعالیتونو په پیل کې د شمېرو له نظره د پام وړ تاخیر ښودنه کړې ده، د دې تر څنګ د زده کوونکي-والدینو تر منځ د جنسي روغتیا د مسائلو په اړوند اړیکې په شمېرو کې د پام وړ زیاتوالی ښودل شوی دی. دا نصاب د والدینو/سرپرستانو د ګډون کلکه هڅونه کوي. یو شمېر کاري پاڼې به له زده کوونکو سره کورونو ته واستول شي، تر څو د جنسي روغتیا په موضوعاتو د زده کونکي او والدینو تر منځ د بحث هڅونه وشي.

- **پیل**
  - زده کوونکي به د مناسب چلند لپاره د ټولګي لارښودونه پیدا او تعقیب کړي؛ د خپل منځي اړیکو او جنسي روغتیا په اړه له مخکې څخه شته پوهه (له مخکې ازموینه) ارزونه به خپله بشپړه کړي، د نویو ځوانانو د جنسي روغتیا اړوند حقایق به ګوته کړي؛ هغه لارې به وپېژني چې د نویو ځوانانو جنسي روغتیا ته وده ورکړي.

- **۱ لوست: په بدلونونو پوهېدل**
  - زده کونکي به د بلوغ پر مهال منځ ته راتلونکي عام جسماني، رواني ټولنیز بدلونونه تشریح کړي؛ د اناتومي، جنس پېژندنې او ښودنې او جنسي میلان په اړه اصطلاحات به روښانه او تر بحث لاندې ونیسي.

- **۲ لوست: د ملګرتیا پیدا کول**
  - زده کوونکي به د کیفیت-ژمنتیا لرونکو ملګرتیاوو لپاره د اړینو ځانګړتیاوو او مهارتونو کچه و ارزوي؛ د ملګرتیا جوړولو لپاره به فرصتونه معلوم او تشریح کړي؛ د یو شي یا یو چا د «خوښولو» او ورسره «میني کولو» تر منځ به توبیر وکړي، له ملګري سره د مصروفیت لپاره به صحتمند او خوندي فعالیت طرحه کړي.
- **۳ لوست: ځورول او ناسم چلند**
  - زده کوونکي به ژمنه وکړي چې په خپل ځان او نورو کې ناسم جنسي چلند او ځورول ختم کړي؛ د جنسیت اړوند خطرناکې رویې به وپېژني، لکه له اجازې پرته جنسي پیغامونه لیږل یا جنسي نژدې والې؛ داسې لارې چارې به وپېژني چې خپل ځان وساتي؛ هغه لارې چارې به وښیي چې څه ډول نامناسبو جنسي رویېو ته ځواب ووایي.

- **۴ لوست: انساني قاچاق**
  - زده کونکي به انساني قاچاق تعریف کړي؛ د جنسي قاچاق په ګډون، دا به تشریح کړي چې په متحده ایالاتو کې انساني قاچاق څومره عام دی؛ د انساني قاچاق عام قربانیان به وپېژني؛ د انساني اقچاق د خبرتیا نښې به وپېژني؛ له انساني قاچاق څخه د تېښتې او راپور ورکولو سرچینې به وپېژني.

- **۵ لوست: له بې خوښې امیدوارۍ څخه مخنیوی**
  - زده کوونکي به د کورنۍ د مدیریت دلایل وپېژني؛ د جنسي پرهېز دلایل به وپېژني؛ د حمل د مخنیوي یو لړ لارې چارې به تشریح کړي، د حمل په مخنیوي او د جنسي اړیکې له لارې د لیږدېدونکو ناروغیو د اغېزمنتیا په ګډون؛ د ټولنې د کورنۍ مدیریت او د حمل مخنیوي خدمات به وپېژني.

- **۶ لوست: انتخابونه او مسئولیتونه**
  - د TPS د پلې کېدو لپاره دا لوست لرې کړای شوی

- **۷ لوست: د HIV اخته کېدو په اړه افساني او ناسم نظریات**

- زده کوونکي به په HIV د اخته شویو خلکو په اړوند افسانو او ناسمو نظریاتو په اړه وپوهېږي؛ پر اشخاصو او د هغوی په کورني ژوند د HIV/AIDS اغېزې به تشریح کړي؛ د معلولیت یا ناروغیو لرونکو اشخاصو په اړه به اندېښنې څرګندې کړي، د هغو په ګډون چې په HIV اخته شوي دي.

- ۸ **لوست: HIV/AIDS وبا**
  - زده کوونکي به د AIDS وبا تشریح کړي؛ د HIV د لېږد لپاره مایعات او د بدن لارې به وپېژني؛ هغه رویې به وپېژني چې یو شخص د HIV په خطر کې غورځوي یا یې نه غورځوي؛ دا به تشریح کړي چې ART, PEP او prEP څه ډول د HIV په مخنیوي او د اخته شوي تن په درملنه کې استعمالېږي.

- **۹لوست: د جنسي اړیکي له لارې د انتقالېدونکو ناروغیو مخنیوی**
  - زده کوونکي به عام STI او د دې نښې وپېژني او تشریح کړي؛ هغه لارې به تشریح کړي چې STI ورڅخه لېږدول کېږي؛ د STI د معاینې او درملنې لپاره به د ټولنې سرچینې وپېژني.

- **۱۰ لوست: خطرونه پېژندل او کمول**
  - زده کوونکي به هغه حالات وپېژني چې خلک د HIV له خطر سره مخ کوي؛ پرهیز به د داسې ۱۰۰٪ اغېزمنې لارې په توګه وپېژني چې د نه پلان شوي حمل، HIV او STI مخه نیسي؛ د ستنې د شریکولو په ګډون د الکولو او نشه یي توکو له کارولو څخه به پرهېز وپېژني، چې د HIV او STI څخه د مخنوي یوه اغېزناکه لاره ده؛ د HIV/STI د انتقال دکمولو لپاره د نړیوالو احتیاطي تدابیرو څخه کار اخیستل به تشریح کړي؛ هغه شیان به وپېژني چې د HIV/STI د انتقال د مخنیوي لپاره د لیټیکس کاندوم وړتیا کمزورې کوي.

- **۱۱ لوست: رسنۍ اود همزورو فشارونه**
  - زده کوونکي به د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې د مصروفېدو لپاره د همزولو، رسنیو یا ټولنې فشارونه وپېژني؛ دا به وپېژني چې ټول زده کوونکي د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې برخه نه اخلي؛ د لوړ ګواښ په فعالیتونو کې د مصروفیدو د فشار څخه انکار/ خوندیتوب د مهارتونو ښودنه به وکړي.

- **۱۲ لوست: د HIV/STI معاینه کول اود ټولنې سرچینې**
  - زده کوونکي به تشریح کړې چې د HIV عفونیت څه ډول په خلکو کې خپرېږي؛ د HIV/STI د معاینې، مشورې او معلوماتو سرچینې به وپېژني.

- ۱۳ لوست: د موخو ټاکنه
  - زده کونکي به د خپلو شخصي موخو ټاکنه وکړي، د دې موخو د تر لاسه کولو لپاره د پړاونو ټاکنه؛ دا به تشریح کړي چې نه پلان شوي امیدواري یا په HIV اخته کېدل به څه ډول شخصي موخې او د ژوند طرحې بدلې کړي، همدا راز د نه پلان شوې امیدوارۍ او HIV اخته کېدو څخه د مخنیوي لپاره په اقداماتو به پوه شي؛ هغه لارې به وپیني چې خپل جنسي صحت خوندي کړي؛ د اوسنیو معلوماتو ارزونه به خپله بشپړه کړي (له ازمویني مخکې)، کوم چې دشخصي اړیکو او جنسي روغتیا اړوند دي.